مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ ۲۰۲۱/۰۳/۲۱

# نوبهار

پسرلی دی که ناله د زوړ رباب
که حکمت په حقیقت ایښی نقاب

غره رغونه د بوډی په تال زنګیږی
نو بهار دی که په خوب وینم سراب

چی نظر می د بهار په پانو کښینی
لکه ناست په جای نماز لولم کتاب

چی له ګل او له بلبل سره شوخی کا
راته ښکاری چی ښکلا وړی سیلاب

لاله زار می تورو سترګو کی اغزی شی
یادوی راته د خپل کلی خوناب

پسرلی او خزان دواړه راته یو دی
له قسمته راته څاڅی التهاب

حسادت می په زړګی باندی یرغل کا
لړزوی می د غلیم د باغ ګلاب

پښتون سر می راته وایی چی را پاڅه
په دا مات وزر دی جوړ کړه پری خوناب

ما به هیری کارنامی وای تازه کړی
که د خپل پښتون په اور نه وای کباب

خوږ نو روز می د غلیم په درویزه شو
خدایه تور مخ ته می ته راوړی حجاب

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ